بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

چهارشنبه ۱ زمرى ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۷ محرم الحرام ۱۴۴۷ هـ ق | ۲۳ جولاى ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۰۵)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تيری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړی، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش له عمومي رئيس محترم شيخ عبدالرحمن (فراهي) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رئيس محترم شيخ عبدالرحمن (فراهي) صاحب، لـه هـر څـه وړانـدې اسـلامي عدالـت خپرونـې تـه درتـه هرکلـی وايـو او ډېره مننه کوو چې لـه ډېرو بوختياوو سره سره مو موږ تـه د دې خپرونې لپاره وخت راکـړ.

**۱- پوښتنه:** محتـرم شـيخ صاحـب د خپرونې پـه پيـل کې کـه د اسـلامي عدالـت خپرونـې لوسـتونکو تـه د سـترې محکمـې د قضائـي تفتيـش عمومـي رياسـت پـه اړه لنډ معلومـات ورکـړئ؟

**ځـواب:** تـر ټولـو د مخـه د اسـلامي عدالـت خپرونـې محتـرم مسـؤول او لوسـتونکو تـه خپـل سـلامونه او احترامـات وړانـدې کـوم، خـدای تعالـی دې وکـړي چـې د روغتيـا جامـې مـو پـه تـن وي. ستاسـو څخـه ډېـره مننه کـوو چې موږ تـه مـو فرصـت راکـړ چې ستاسې لـه لارې لـه لوسـتونکو سـره د سترې محکمـې د تفتيـش عمومـي رياسـت خدمتونـه او دنـدې شـريکې کـړو.

ستاسـو د لومـړۍ پوښـتنې پـه ځـواب کـې بـه ووايـو، چـې د سـترې محکمـې تفتيـش عمومـي رياسـت د سـترې محکمـې اړونـد يـو رياسـت دی، چـې پـه خپـل تشـکيل کـې يـو رئيـس، يـو مرسـتيال، (۲۸) قضائـي او مسـلکي غـړي او (۲۰) اداري او خدمتـي کارکوونکـي لـري، چـې د هېـواد پـه (۳٤) ولايتونـو کـې د ټولـو محاکمـو د مسـلکي، سـلوکي، اداري او مالـي چـارو پلټنـه کـوي او خپـل راټـول شـوي معلومـات د راپـور پـه بڼـه لـه وړانديـز سـره يـو ځـای، يـوه کاپـي د عاليقـدر اميرالمؤمنيـن (حفظه‌اللـه تعالـی) عالـي مقـام تـه او يـوه کاپـي د سـترې محکمـې محتـرم عالـي مقـام تـه وړانـدې کـوي.

دغـه راز د تفتيـش عمومـي رياسـت مفتشـين ټولـو ولايتونـو او ولسـواليو لـه زندانونـو او توقيف‌خونـو څخـه لـه نـږدې ليدنـه کـوي، د بنديانـو احـوال لـه نـږدې اخلـي، د هغـوی سـتونزې او اصولـي غوښـتنې او اړتيـاوې لـه ځـان سـره يادداشـت کـوي، وروسـته يـې لومـړی د اړونـد محاکمـو او زنـدان لـه مسـؤولينو سـره شـريکوي او هغـوی تـه يـې پـه اړه لازمـې لارښـوونې کـوي او ورپسـې يـې د سـترې محکمـې محتـرم عالـي مقـام تـه لـه وړانديـز سـره يوځـای وړانـدې کـوي.

دغـه راز د تفتيـش عمومـي رياسـت يـوې څانګـې د کندهـار (جنـوب لوېديـځ) زون د تميـز رياسـت او قضائـي معاونيـت پـه مقـر کـې فعاليـت کاوه؛ چـې پـه دې وروسـتيو کـې د عاليقـدر اميرالمؤمنيـن (حفظه‌اللـه تعالـی) او د سـترې محکمـې محتـرم رئيـس او قاضي‌القضـات (حفظه‌اللـه تعالـی) پـه امـر او هدايـت د سـترې محکمـې لـه مرکـزي تفتيـش سـره يـو ځـای او د دغـه عمومـي رياسـت تـر چتـر لانـدې يـې فعاليـت پيـل کـړ.

**۲- پوښتنه:** محتـرم شـيخ صاحـب د قضائـي تفتيـش عمومـي رياسـت پـه اړه لـه معلوماتـو شـريکولو مـو منـندوی يـو؛ د خپرونـې پـه دې برخـه کـې غـواړو د سـترې محکمـې پـه تشـکيل کـې د قضائـي تفتيـش عمومـي رياسـت د موجوديـت پـه ارزښـت هـم راتـه ووايـاسـت، ستاسـو پـه نظـر دغـه رياسـت د سـترې محکمـې پـه تشـکيل کـې څومـره مهـم او اړيـن دی او د سـترې محکمـې د عالـي مقـام لخـوا کـوم مهـم مسـؤوليتونه ورسـپارل شـوي دي؟

**ځواب:** ستاسـو د دويمـې پوښـتنې پـه ځـواب کـې بـه ووايـو، چـې پـه هـره اداره کـې د تفتيـش څانګـه د هغـې ادارې د کارونـو د لا ښـه‌والي، پرمختـګ او سـتونزو د مخنيـوي لپـاره اړينـه ده، کـه پـه اداره کـې تفتيـش نـه وي، هغـه اداره د ضعـف او فسـاد سـره مـخ کېـږي؛ نـو پـه دې اسـاس ويـلای شـو چـې د سـترې محکمـې د تفتيـش عمومـي رياسـت د هېـواد (۳٤) ولايتونـو د محاکمـو د اصـلاح، کارونـو او چـارو د پرمختـګ او سـتونزو د حـل لپـاره ډېـر اړيـن دی.

د سترې محکمې محترم عالـي مقـام لخـوا د تفتيش عمومي رياست تـه د خپلې کړنلارې لـه مخې دوه ډولـه مسـؤوليت سپارل شـوی دی:

لومـړی عـادي تفتيـش دی، چـې پـه کال کـې يـو ځـل د ټولـو محاکمـو مسـلکي، سـلوکي، اداري او مالـي چـارو پلټنـه کـوي.

دويـم اقتضائـي تفتيـش دی، کلـه چـې يـو عـارض د يـوې محکمـې يـا د يـوه غـړي څخـه شـکايت وکـړي، د سـترې محکمـې د عالـي مقـام تـر هدايـت او احکامـو وروسـته د تفتيـش رياسـت لخـوا د قضائـي غـړو څخـه يـو پـلاوی ټـاکل کېـږي، يـاد پـلاوی د عـارض د شـکايت پـه موضـوع کـې هـر اړخيـزه پلټنـه کـوي، کلـه چـې تـر دقيقـو پلټنـو او څېړنـو وروسـته حقيقـت معلـوم شـي، د سـترې محکمـې محتـرم مقـام تـه د راپـور سـره سـم د سـتونزې د حـل وړانديـز کـوي.

**۳- پوښتنه:** محتـرم شـيخ صاحـب، تاسـو تـه بهتـره معلومـه ده چـې سـتره محکمـه پـه خپـل تشـکيل کـې د قضائـي تفتيـش دوه رياسـتونه (د مرکـزي تفتيـش عمومـي رياسـت او د جنـوب لوېديـځ زون د قضائـي تفتيـش رياسـت) لـري، ايـا دغـه رياسـتونه د کاري اسـتقامت او مسـؤوليتونو لـه لحاظـه برابـر دي؟

**ځواب:** ستاسـو د دريېمـې پوښـتنې پـه ځـواب کـې بـه ووايـو، چـې د اسـلامي امـارت تـر حاکميـت وروسـته د عاليقـدر اميرالمؤمنيـن (حفظه‌اللـه تعالـی) پـه هدايـت د سـترې محکمـې پـه تشـکيل د جنـوب لوېديـځ زون د (۱۰) ولايتونـو لپـاره پـه کندهـار کـې يـو د تميـز رياسـت لـه قضائـي معاونيـت سـره، د تفتيـش رياسـت او د قضائـي زده کـړو رياسـت جـوړ شـول، چـې پـه دې وروسـتيو کـې د عاليقـدر اميرالمؤمنيـن (حفظه‌اللـه تعالـی) او د سـترې محکمـې د محتـرم رئيـس او قاضي‌القضـات شـيخ صاحـب پـه هدايـت دغـه دوه رياسـتونه سـره يـو او د مرکـزي تفتيـش عمومـي رياسـت تـر عنـوان لانـدې فعاليـت کـوي.

**۴- پوښتنه:** شـيخ صاحـب محتـرم، زمـوږ د معلوماتـو لـه مخـې د قضائـي تفتيـش عمومـي رياسـت د هـر کال پـه جريـان کـې د هېـواد لـه مرافعـه، ښـاري ابتدائيـه او ولسـواليو ابتدائيـه محاکمـو او زندانونـو ليدنـه کـوي، کـه د اسـلامي عدالـت خپرونـې مينه‌والـو تـه دا روښـانه کـړئ چـې د قضائـي تفتيـش عمومـي رياسـت پـلاوي د يـادو ليدنـو پـر مهـال کـوم مـوارد بررسـي کـوي او لـه بررسـۍ وروسـته څـه اجـراآت کـوي؟

**ځـواب:** ستاسـو د څلورمـې پوښـتنې پـه ځـواب کـې بـه ووايـو، چـې د سـترې محکمـې تفتيـش عمومـي رياسـت پـه کال کـې يـو ځـل د هېـواد (۳٤) ولايتونـو د ټولـو محاکمـو لکـه: د سـترې محکمـې د تميـز د دېوانونـو، د مرافعـه محاکمـو د دېوانونـو، د ښـاري ابتدائيـه محاکمـو د دېوانونـو، د ولسـواليو ابتدائيـه محاکمـو، نظامـي، اختصاصـي، د غصـب د مخنيـوي کمېسـيون د اختصاصـي محاکمـو او د حقوقـو عمومـي رياسـت د چـارو پلټنـه کـوي.

د قضائـي تفتيـش عمومـي رياسـت مفتشـين پـه دغـه بهيـر کـې د يـادو محاکمـو فيصلـې ګـوري چـې تـر کومـه حـده اصـول او قوانيـن پـه کـې مراعـات شـوي دي، د کميـت او کيفيـت ارزونـه يـې کـوي، د محاکمـو د غـړو مسـلکيتوب او سـلوکي پلټنـه کـوي، چـې د محاکمـو د غـړو سـلوک او تعامـل د خلکـو او مراجعينـو سـره څنګـه دی او پـه خپـل منـځ کـې يـې کارونـه پـه څـه ډول دي.

دغـه راز د سـيمې مسـؤولينو، علمـاء کرامـو او مراجعينـو څخـه د محکمـې د غـړو پـه اړه پوښـتنه کـوي، د عارضينـو عريضـې اخلـي او لـه اړونـد محکمـې سـره يـې شـريکوي او د شـکايت او سـتونزې د حـل پـه موخـه ورتـه لازمـې لارښـوونې کـوي او کـه بيـا هـم موضـوع حـل نـه شـوه، نـو موضـوع د سـترې محکمـې لـه محتـرم عالـي مقـام سـره شـريکوي.

پـه دې سـربېره د قضائـي تفتيـش عمومـي رياسـت پـلاوی پـه يـادو محاکمـو کـې اداري تفتيـش کـوي، اندراجونـه، صـادرې او واردې يـې کتـل کېـږي، چـې څـه ډول يـې اسـتعمال کـړي، د وثيقـو کنـدې ګـوري چـې وثيقـې پـه سـم ډول وېشـل شـوې او کـه نـه، د جلـب د پاڼـو کنـدې ګـوري او مالـي پلټنـه کـوي چـې د کومـو کارونـو پـه نـوم پيسـې ورکـول کېـږي، پـه خپـل اصلـي ځـای کـې مصـرف شـوې او کـه نـه، د محکمـې د اړتيـاوو معلومـات کـوي، چـې محکمـه کومـو شـيانو تـه اړتيـا لـري، ايـا يـاده محکمـه خپـل تعميـر لـري او کـه نـه، د کمپيوټـر، پرنټـر، مېـز، المـارۍ، څوکـۍ، فـرش، قرطاسـيې او موجـوده شـيان پـه جـدول کـې ليکـي او يادداشـت کـوي يـې، دا ټـول معلومـات د راپـور سـره يـو ځـای د وړانديـز پـه بڼـه يـوه کاپـي د عاليقـدر اميرالمؤمنيـن (حفظه‌اللـه تعالـی) عالـي مقـام تـه او يـوه کاپـي د سـترې محکمـې محتـرم مقـام تـه سـپارې.

دغـه راز د هـر محبـس او توقيف‌خونـې لـه بنديانـو سـره لـه نـږدې ګـوري، د بنديانـو سـتونزې يادداشـت کـوي، بيـا يـې لومـړی لـه اړونـد محکمـې او وروسـته يـې د سـترې محکمـې لـه محتـرم مقـام سـره د وړانديـز پـه بڼـه شـريکوي.

پاتې برخه ص ۲

**په راشده خلافت دوره کې قضاء:**

**څلورمه برخه**

۲ ــ د اسلامي دولت د بنسټونو د پياوړي کولو لپاره قضاء کې د نوي تشکيلاتو وضع کول. ( تاريخ القضاء فی الاسلام،ص:۸۴)

په قضائي برخه کې نوښتونه، بدلونونه او تشکيلات د ابو بکر صديق او عثمان بن عفان (رضي‌الله عنهما) په دوروکې محدود وو او د عمر فاروق ﷺ په دوره کې پراخوالی په کې راغی او ځينې نور اړخونه يې بيا د علي بن ابي طالب ﷺ په دوره کې ښکاره شول؛ نو موږ هم اوس هره دوره کې په دې اړوند لنډ بحث کوو.

اخذليک: تتمة النظام، ۵۶ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش...

**۵- پوښتنه:** محترم شيخ صاحب، د قضائي تفتيش عمومي رياست قضائي غړي په عموم کې د محاکمو او نورو اړوند ادارو څو ډوله بررسي ترسره کوي؟ که په دې اړه لنډ معلومات راکړئ.

**ځواب:** ستاسو د پنځمې پوښتنې په ځواب کې به ووايو، چې د سترې محکمې تفتيش عمومي رياست دوه ډوله پلټنه ترسره کوي:

لومړی عادي پلټنه: په عادي پلټنه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست مؤظف پلاوي په کال کې يو ځل د هېواد (۳٤) ولايتونو ته سفرونه کوي او د محاکمو د مسلکي، سلوکي، اداري او مالي چارو پلټنې سربېره د اړوند ولايت له زندانونو او توقيف‌خونو څخه ليدنه کوي. دا چې د عادي تفتيش په اړه جزئيات مو د څلورمې پوښتنې په ځواب کې شريک کړي دي نو ځکه نه غواړو تکراراً يې يادونه وکړو.

دويم اقتضائي پلټنه: په اقتضائي پلټنه کې د عارض د شکايت په اثر د تفتيش رياست يو پلاوی چې لږ تر لږه دوه تنه قضائي غړي په کې شامل کېږي تر څو، د عارض او معروض څخه د استعلام په ډول اسناد او شواهد را وغواړي، کله بيا له دواړو طرفونو سره له نږدې ګوري، کله بيا کشف الحال لپاره د دعوې د پېښې ځای ته ځي، وروسته بيا د دې موضوع په اړه تفصيلي راپور جوړوي، د عارض د شکايت خلاصه او د دواړو طرفونو ځوابونه په کې ليکي، ورپسې خپل نظر او وړانديز له دلايلو سره د راپور په ضمن کې د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کوي او د سترې محکمې محترم مقام چې څرنګه لازم وګڼي، هدايت کوي.

**۶- پوښتنه:** شيخ صاحب محترم، شپږمه پوښتنه مو داده چې د عادي او اقتضائي تفتيش يا پلټنې ترمنځ توپير څه دی؟ که دغه موضوع راته روښانه کړئ.

**ځواب:** ستاسو د شپږمې پوښتنې په ځواب کې به ووايو، عادي تفتيش د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت په کال کې يو ځل د ټولو محاکمو څخه په ياد شويو مواردو کې ترسره کېږي او خپل راپور يوه کاپي د مشرتابه او يوه کاپي د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کوي. په داسې حال کې چې اقتضائي پلټنه د عارض د شکايت په اساس او د سترې محکمې له هدايت وروسته د تفتيش رياست لخوا، د قضائي مفتشينو يو پلاوی جوړېږي، په موضوع هر اړخيزه پلټنه کوي او خپل د پلټنې راپور او پايله له حل‌لارې سره يو ځای د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کوي.

کله کله د سترې محکمې محترم مقام په هدايت د تفتيش رياست يو پلاوی بېلا بېلو ولايتونو ته د يوې ځانګړې موضوع په اړه سفر کوي؛ تر څو د موضوع څېړنه له نږدې څخه وکړي، يا د بنديانو د احوالو د څېړنې لپاره د ولايتونو محبسونو څخه ليدنې کوي او خپل معلومات د حل لارو سره يو ځای د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کوي.

**۷- پوښتنه:** محترم شيخ صاحب، د محاکمو مراجعه کوونکي په کومو مواردو کې تفتيش عمومي رياست ته د اقتضائي پلټنې عريضه کولای شي؟ که فرضاً يو مراجعه کوونکی د عريضې مستحق وي نو آيا مستقيماً به ستاسو رياست ته عارض کېږي او که څنګه؟

**ځواب:** ستاسو د اوومې پوښتنې په ځواب کې به ووايو، که کوم شخص د محکمې يا د محکمې د يو غړي څخه شکايت لري، بايد خپله عريضه د سترې محکمې د محترم عالي مقام په عنوان وليکي، خپل شکايت په واضح ډول وليکي، د بېلګې په توګه، قاضي صاحب زما فيصله ځنډولې ده، يا ماته يې د مرافعه طلبۍ حق نه دی راکړی او يا داسې نور موارد، د هغې محکمې پوره وضاحت دې وکړي چې شکايت ترې لري، چې ابتدائيه، مرافعه او که د تميز، جزا، امنيت عامه، مدني، منسوبين نظامي دېوانونو او که د اختصاصي، الف که با جزء دی او داسې نور...

او که عارض د محکمې پر حکم اعتراض درلود، چې قاضي صاحب د اصولو او قانون سره سم فيصله کړې، د مرافعې او تميز حق يې پاتې و، نو بايد خپل شکايت او اعتراض لوړې محکمې (مرافعې او تميز) ته وکړي؛ ځکه لوړه محکمه هم د همدې لپاره ده چې د معترض اعتراض واوري، يا يې د فيصلې تحقيق وکړي چې فيصله شرعي ده او که نقصان لري، که صحيح نه وي لوړه محکمه يې حتماً نقض کوي.

**۸- پوښتنه:** محترم شيخ صاحب، که د محکمې مراجعين يا شرعي وکيلان وغواړي د رشوت اړوند موضوعاتو د بررسۍ غوښتونکي وي، دوی بايد د سترې محکمې اړوند کومې مرجع ته عريضه وکړي؟ که په دې اړه تفصيلي معلومات راسره شريک کړئ.

**ځواب:** ستاسو د اتمې پوښتنې په ځواب کې به ووايو، که د کوم کس څخه د رشوت غوښتنه وشوه، نو ياد کس يا د محاکمو مراجعين (مدعي، مدعی عليه او شرعي وکيل) کولای شي خپله ستونزه د عريضې په ډول د سترې محکمې د عالي مقام دوولسم (۱۲) نمبر غرفې سره شريکه کړي، له عريضې سره دې خپل اسناد او شواهد هم ضميمه کړي، ستره محکمه به يې موضوع دقيقه وڅېړي او په اړه به يې د شرعي اصولو مطابق اجراآت وکړي.

البته که کوم کس چاته د محکمې په نوم پيسې ورکړې؛ نو د اسلامي امارت محاکم به [پيسه ورکوونکی، پيسه اخيستونکی او د دوی ترمنځ منځګړی] د شرعي اصولو په رڼا کې مجازات کړي.

**۹- پوښتنه:** قدرمن شيخ صاحب د اسلامي عدالت خپرونې په وروستيو کې هېوادوالو ته څه پيغام لرئ؟

**ځواب:** په پای کې زما مهم پيغام ټولو هېوادوالو ته دادی چې ځينې کسان د محکمې په نوم د دعوې د خاوندانو څخه د رشوت غوښتنه کوي او وايي چې قاضي زما شناخته دی، يا هغه قاضي سره ما خبره کړې ده چې ستا په ګټه به فيصله کوي، د قاضي په نوم پيسې اخلي، خو خپل جېب کې يې اچوي، دغه ډول فرېبکاران ډېر دي او موږ هېڅکله د دغه غير شرعي کار د کولو اجازه نه ورکوو.

قاضي صاحبان خبر هم نه وي؛ خو دغه فرېبکارانو د دوی په نوم پيسې اخيستې وي او د قاضيانو نوم بدوي، هېوادوال دې د دغو کسانو په خبرو نه دوکه کېږي او د تفتيش رياست سره دې په تماس کې شي.

دغه راز د اسلامي عدالت خپرونې مسؤول څخه مننه کوو چې موږ ته يې وخت راکړ چې د سترې محکمې تفتيش عمومي رياست خدمتونه او دندې ستاسو له لارې لوستونکو سره شريک کړو او لوستونکي په دې پوه شي چې د اړتيا په وخت کې څنګه خپل شکايتونو تر مسؤولينو او مشرانو پورې ورسوي؛ ترڅو يې ستونزه حل شي.

## محترم شيخ محمد گلاب (فاروقی) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت لوگر معرفی شد

محترم شیخ محمد گلاب (فاروقی) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت لوگر؛ با اشتراک معاون مقام ولایت، عضو شورا علماء، رئیس استخبارات، قوماندان امنیه، نمایندگان ریاست‌های عدلیه و نظارت و تعقیب از فرامین و احکام، رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، رؤسای دواوین مرافعه، ابتدائیه و عموم قضات، کارمندان اداری و مسؤولین امنیتی محاکم به تاریخ ۲۱ /۱ /۱۴۴۷هـ ق طی یک جلسه معرفی گردید.

جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط محترم مولوی ذاکرالله (جنتی) مفتی دیوان جزاء مرافعه آغاز گردید؛ سپس محترم مفتی امان الله (منقاد حقانی) ضمن قدردانی از تشریف آوری همه مسؤولین، قضات و مهمانان، در رابطه به تغیر و تبدیل مسؤولین عالی رتبه که یک اصل بوده، راجع به اهمیت قضاء در جامعه صحبت نمود و تبدیلی محترم شیخ محمد گلاب (فاروقی) را خیر مقدم گفت.

در ادامه مولوی محمد انور (دین پرور) معاون مقام ولایت تقرر رئیس جدید را خیر مقدم گفت، در امور محوله از الله متعال برایش توفیق مزید خواست و در رابطه به اهمیت قضاء صحبت مختصر را ارائیه نمود.

در اخیر محترم شیخ محمد گلاب (فاروقی) رئیس جدید محکمهٔ مرافعه راجع به مسؤولیت قضائی که یک امانت است و در رابطه به هماهنگی میان ادارات ذیربط و محاکم صحبت نمود، در رابطه به شکایات عارضین و تطبیق فیصله‌های نهائی محاکم که عاجل رسیدگی به عمل آید، تأکید کرد.

جلسه توسط شیخ عبدالحکیم (ثنایی) عضو شورای علماء با دعاء خیر خاتمه یافت.

## د ننګرهار ولايت مرافعه محکمې د نوي رئيس محترم مولوي محبوب الرحمن (نقشبندي) د معرفت غونډه وشوه

د ننګرهار ولايت مرافعه محکمې ته نوی رئيس محترم مولوي محبوب الرحمن (نقشبندي)؛ په ۲۰/ ۱/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه د يوې غونډې په ترڅ کې د ياد ولايت محاکمو قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

غونډه د ښاري ابتدائيه محکمې مدني دېوان رئيس مفتي عبدالحق (مبين) لخوا د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې نوي رئيس خبرې وکړې وويل، قضاء يو درونده مسؤوليت دی، بايد په هېڅ صورت په کې غفلت او بې احتياطي ونشي.

نوموړي د قضاء پر اهميت او ارزښت هر اړخيز بحث وکړ، ټول قضات او اداري کارکوونکي يې خپلو اړوند دندو ته متوجې کړل؛ تر څو د دنيوي او اخروي مسؤوليت په نظر کې نيولو سره خپل کارونه په اخلاص، صداقت او ايمانداری ترسره او د الله (جل‌جلاله) رضاء حاصله کړې.

دغه راز د مرافعه محکمې رئيس د محاکمو مسؤولينو ته په خطاب کې وويل، له مراجعينو سره ښه سلوک وکړئ، د مراجعينو دوسيې مه ځنډوئ، د هېوادوالو دوسيو ته په شفاف ډول رسېدنه وکړئ، فيصلې يې مه ځنډوئ، د خپلو امرينو اطاعت وکړئ؛ ځکه د اسلامي نظام بقاء د امير په اطاعت کې ده، د يو او بل پر دندو کې مداخله مه کوئ او په رسمي وخت کې خپلو دندو ته ځانونه حاضر کړئ.

د مرافعه محکمې نوي رئيس زياته کړه، کوم اصول او تعليمات‌نامې چې محاکمو ته په واک کې ورکړل شوې، بايد ورباندې په سمه توګه عمل وشي.

غونډه د مرافعه محکمې مدني دېوان مفتي غلام رباني (نقشبندي) لخوا د دعا په ويلو پای ته ورسېده.

## دکونړ ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې نوي رئيس محترم مولوي ظاهرالله (عرف مروان) د معرفت غونډه وشوه

د کونړ ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې نوي رئيس محترم مولوي ظاهرالله (عرف مروان)؛ په ۲۰/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د يوې غونډې په ترڅ کې د يادې محکمې قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته ور معرفي شو.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محکمې سرپرست مولوي لعل محمد (صديقي)، د مرافعه محکمې عامه امنيت دېوان عضو مفتي رحمت الله (محسن)، د سيد جمال الدين افغاني پوهنتون رئيس، د علماوو شورا رئيس شيخ عبدالقهار (صديقي) او د افغانستان بانک رئيس مولوي منصور، د ښاري ابتدائيه او مرافعه محاکمو قاضي صاحبانو او اداري کارکوونکو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې سرپرست، د علماوو شورا رئيس او د سيد جمال الدين افغاني پوهنتون رئيس لنډې ويناوې وکړې.

د غونډې په دوام محترم مولوي مروان خپل اړوند قضائي غړو او کارکوونکو ته معرفي شو او ګډونوالو نوموړي ته د الله (جل جلاله) له دربار څخه د ښه خدمت کولو د توفيق غوښتنه وکړه.

غونډه د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

## محترم مولوی محمد صابر (حنفی) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بدخشان معرفی شد

محترم الحاج مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بدخشان طی یک نشست به تاریخ ۱٤٤٧/۱/۲۱ هـ ق به مسؤولین و منسوبین محاکم ولایت بدخشان معرفی و رسماً آغاز به کار نمود.

در جلسهٔ معرفی محترم مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ مرافعه، مسؤولین و منسوبین محاکم ولایت بدخشان، معاون مقام ولایت، رئیس شورا علماء، نمایندگان سایر ادارات امارتی آن ولایت حضور داشته‌اند.

در این نشست رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ مرافعه و حاضرین دیگر در رابطه به مسؤولیت قضاء و سایر موضوعات مرتبط مفصلاً بحث و گفتگو نموده‌اند.

جلسه بعد از معرفت رئیس جدید با دعاء خیر خاتمه یافت.

## محترم مفتی عبدالخالق (محمدی) به حیث رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب طی یک نشست معرفی شد

محترم الحاج مفتی عبدالخالق (محمدی) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب؛ با اشتراک رئیس شورای علماء، معاون مقام ولایت، معاون قوماندانی امنیه، رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، قضات، مفتیان و اعضای قضائی دواوین مرافعه و محاکم ابتدائیه به تاریخ ۲۳ /۱ /۱۴۴۷هـ ق، طی یک نشست به مسؤولین محاکم و سایر ادارات آن ولایت معرفی گردید.

نشست با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس مولوی حیات الله (حلیم) رئیس شورای علمای ولایت فاریاب در رابطه به جایگاه و اهمیت محاکم و تطبیق عدالت در یک نظام ایراد سخن نمود.

در ادامه معاون مقام ولایت ضمن تبریکی به رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ مرافعه افزود، تغیر و تبدیل یک اصل بوده و ما تابع این اصل هستیم، هدف این اصل اطاعت است، جهاد مقدس مایان بخاطر تطبیق و اجرای عدالت و نظام شریعت اسلامی بوده که به منظور رسیدن به این هدف باید همکاری میان ادارات مختلف با محاکم وجود داشته باشد؛ این ملت روزهای بدی را سپری نموده همه ما در هر مقام که هستیم خدمتگار این ملت می‌باشیم.

در اخیر رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ مرافعه گفت، امروز بزرگان امارت اسلامی نیک دانستند؛ تا ما را در این ولایت خدمتگار تقرر نمایند، ما هم تا که توان داریم خدمت‌گار این ملت خواهیم بود، برای مردم و ملت رنجدیدهٔ ولایت فاریاب عدالت را طبق کتاب‌الله و سنت نبوی و فرامین امارت اسلامی جاری می‌سازیم؛ زیرا عدالت و انصاف باید در تمام ادارات بخصوص در محاکم قایم باشد.

جلسه با دعاء خیر توسط رئیس شورا علماء خاتمه یافت.

## محترم مولوی شمس الله (عزیزی) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان معرفی شد

محترم الحاج مولوی شمس الله (عزیزی) به حیث رئیس جدید محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان؛ با اشتراک الحاج مولوی محمد صابر (حنفی) رئیس اسبق محکمهٔ مرافعهٔ، رئیس محکمهٔ شهری، رؤسای دواوین مرافعهٔ، ابتدائیه و عموم قضات، منسوبین اداری و امنیتی محاکم آن ولایت به تاریخ ۲۰ /۱ /۱۴۴۷ هـ ق طی جلسهٔ معرفی و رسماً آغاز به‌کار نمود.

ابتداء جلسهٔ با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط قاری احمد شاه آغاز گردید؛ سپس مولوی عبدالحی (اشرفی) رئیس اسبق دیوان جزا مرافعه ضمن عرض خوش آمدید به مهمانان در رابطه به تبدیلی رؤسای مرافعه افزود، تغیر و تبدیل در هر نظام بخصوص در نظام اسلامی یک اصل پنداشته می شود، عروج نظام اسلامی را اطاعت و فرمانبرداری، اتفاق، هم پذیری و نایل آمدن به اهداف اساسی یک نظام را تغیر و تبدل عنوان کرد.

بعداً مولوی عبدالغفار (توحید یار) آمر دعوت و ارشاد مرافعه ضمن تبریکی به رئیس جدید التقرر بیان کرد، شکرگزار باشیم از اینکه زیر چتر بیرق سفید نظام اسلامی زندگی میکنیم که علماء قدر، قیمت و جایگاهی که متعلق به آن بودند را دریافت کرده اند.

در ادامه رئیس اسبق محکمهٔ مرافعه ضمن به خوانش گرفتن فورم پ۲ (۲۵) تن از قضات به شمول فورم پ۲ رئیس جدید التقرر محکمهٔ مرافعه برایشان از بارگاه الله متعال آروزی موفقیت نمود.

در اخیر محترم مولوی شمس الله (عزیزی) رئیس جدید التقرر محکمهٔ مرافعه طی سخنان‌شان در رابطه به وظیفه مقدس قضاء که بسیار سنگین است، قوه قضائیه معیار سلامتی یک جامعه است، راجع به اطاعت اوامر شرعی، بهبود امور قضائی و رفتار نیک با مراجعین تاکید ورزید.

جلسه با دعاء خیر توسط شیخ عبدالرحیم (معرفت) عضو مفتی دیوان امنیت عامه محکمهٔ شهری خاتمه یافت.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیوکې (۵۱۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۳۶) وثیقې هم اجراکړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې د ۲/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې څخه ۱۴ /۱ / ۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې (۵۱۰) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۳۶) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۵۹) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۰۴) دوسیو په اړه قضائي قراورنه صادر شوي، (۶۷) دوسیې فیصله شوې، (۳۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۵۷) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۳) دوسیو په اړه قضائي قراورنه صادر شوي، (۹۲) دوسیې فیصله شوې، (۳۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۳۶) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۶۵) دوسیه، به تعداد (۱۰۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، نظامی زون غور، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۸۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۴۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۸) دوسیه فیصله شده، (۲۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۷) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۰۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت هرات طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۳۵) دوسیه، به تعداد (۴۹۶) وثایق نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین مرافعهٔ، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی، تجارتی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۸۰) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۲) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۲) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۲) دوسیهٔ تجارتی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده، (۲۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می باشد.

در بخش وثایق:

در جریان دو هفته در محاکم ولایت هرات به تعداد (۴۹۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراگردیده است.

## محاکم ولایت جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۷۶) دوسیه، به تعداد (۱۵۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، نظامی، اختصاصی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۹) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۵۷) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده است.

## د کندهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۶۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۹۷) وثیقې هم اجراکړې دي

د کندهار ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د کندهار زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۲۹ /۱۲ / ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۵۶۶) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۹۷) وثیقې هم اجراکړې دي؛ چې جزئیات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۳۶۴) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۲) دوسیو په اړه قضائي قراورنه صادر شوي، (۹۲) دوسیې فیصله شوې، (۳۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۴۲۶) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۵۰) دوسیو په اړه قضائي قراورنه صادر شوي، (۱۴۸) دوسیې فیصله شوې، (۲۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د کندهار ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۹۷) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## حکم جزای تعزیری بالای (۱۸ ) تن در ولایت سرپل تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی گوسفندی ولایت سرپل به شمول پنج زن بالای (۱۸) تن به جرم قمار بازی، اتهام زنا، قتل عمد و تماس تلفنی؛ امروز چهارشنبه مؤرخ ۲۰/ ۱/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیهٔ مجرمین و متهمین مذکور را به شش ماه الی دو سال حبس تنفیذی و ۲۰ الی ۳۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در محوطه محکمهٔ مرافعه در حضورداشت رؤسای دواوین، اعضای قضائی، کارمندان اداری، خدماتی، پرسونل نظامی و مراجعین تطبیق گردید.

## د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۹) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې (۹)کسانو ته د نشه‌يي تابلیتو (تابلیت کا، ذیکپ)، شیشې او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، په ۱۳/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له شپږو میاشتو څخه تر درېیو کالو پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۰ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو.

یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو مجرمینو تطبیق شوه.

## په پکتیا ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته د نامشروع اړیکو لرلو په جرم ؛ په ۲۴/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین پر ۱۸ـ۱۸ میاشتو تنفیذي بند او ۳۵ـ ۳۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه‌کې د پکتیا ولایت مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله «خالد»، د زرمت ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس مولوي عبدالله «فیاض»، د دې ولسوالۍ ولسوال، امنیه قوماندان، د استخباراتو مدیر، د علماوو شورا آمر، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو د اورېدو آمر، قومي مشرانو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ دیوان امنیت عامه محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت فاریاب بالای یک تن به جرم انتقال مشروبات الکولی؛ به تاریخ ۱۲/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دیوان امنیت عامه مجرم مذکور را به دو سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این حکم بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد .

جزای تعزیری در حضور رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری، اعضای قضائی، علماء کرام، مسؤولین ملکی، نظامی و جمع کثیری از مردم عام تطبیق شد.

## په غزني ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د غزني ولایت د جاغوري ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې یو کس ته چې پر زنا متهم و؛ په ۱۳/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد متهم پر یو کال او شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یاد متهم تطبیق شوه.

## د کابل ولایت ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون لخوا یوې مجرمې ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون جزا دېوان د پرېکړې له مخې یوې ښځې ته د زنا په تور او له کوره د تېښتې په جرم؛ په ۱۲/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه د یادې محکمې په انګړ کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

جزا دېوان یاده مجرمه په یو کال تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکومه کړې وه چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت بلخ تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محاکم ولایت بلخ به شمول یک زن بالای دو تن به اساس داشتن جرم روابط نامشروع و فرار از منزل؛ به تاریخ ۱۷/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

در گردهمایی که بخاطری تطبیق حکم جزای تعزیری در صحن محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ راه اندازی شده بود، محترم الحاج شیخ محمد گلاب "فاروقی" رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ، محترم الحاج شیخ عبیدالله"حقانی" رئیس امر بالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات، محترم الحاج شیخ فریدالدین"حقانی" رئیس دیوان جزاء محکمهٔ مرافعه، محترم مولوی محمد ولی"حقانی" رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، رؤسا و اعضای دیگر دواوین مرافعه، محکمهٔ اختصاصی، رئیس تحریرات مرافعه، نمایندگان محترم مقام ولایت، شورای علماء، استخبارات و قوماندانی امنیه، تعداد کثیری از علماء، وکلای گذر، مردم عام و مراجعین محکمه حضور داشته‌اند.

گردهمایی با تلاوت آیات از قرآنکریم آغاز شد؛ سپس محترم الحاج شیخ عبیدالله "حقانی" رئیس امر بالمعروف نهی عن المنکر و سمع شکایات و محترم الحاج شیخ محمد گلاب"فاروقی" رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ بالنوبه صحبت نموده گفتند که تطبیق و اجرای احکام شریعت بالای مجرمین از مسؤولیت‌های مسؤولین نظام امارت اسلامی افغانستان می باشد.

آنها علاوه کردند که مردم مؤمن و مجاهد افغانستان بخاطر اجرای احکام شریعت و محو فساد، فتنه و هر عمل دیگر خلاف شریعت از جامعه اسلامی ما و ایجاد و استقرار نظام امارت اسلامی افغانستان جهاد مقدس نمودند که الحمد لله امروز در کشور ما تمام احکام الهی مورد  تطبیق قرار می‌گیرد.

بعداً نص حکم فیصله توسط مولوی انصار الله"نعمانی" قاضی جزء"با "دیوان جزای محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری قرائت و (۳۹ـ۳۹) دره جزای تعزیری بالای مجرمین تطبیق شد.

گردهمای با دعاء خیر خاتمه یافت.

## د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۴۲۹) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې له ( ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱۲/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۴۲۹) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې ته په یوه میاشت کې (۳۴۷) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۵۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۷۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د کندهار زون نظامي محکمې عمومي رئیس زابل ولایت ته سفر وکړ

د کندهار زون نظامي محکمې عمومي رئیس محترم الحاج مولوي محمد ګل (صیاد)؛ په ۲۱/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه د زابل ولایت د نظامي محکمې د نوي رئیس مولوي اسدالله، مفتي او محرر د معرفت په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

په دې موخه جوړه شوې غونډه‌کې د یاد ولایت د علماوو شورا، د احکامو او فرامینو د تعقیب او نظارت رئیسانو او نورو مسؤولینو ګډون درلود.

د غونډې په جریان کې د کندهار زون نظامي محکمې رئیس ارزښتناکه وینا وکړه، اداره کې تغیر او تبدیل یې د نظام یو اصل یاد کړ او د مخکني قاضي صاحب کارونه او خدمت یې وستایه او نوي قاضي صاحب ته یې د ښه خدمت کولو دعا وکړه.

غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳